## د افغانستان اسلامي جمهوریت د علومو د اکاډمۍ د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس تقنیني فرمان

ګڼه: (۲۵۴)

نېټه: ۱۴/ ۱۲/ ۱۳۹۵

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د شلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوریت د علومو د اکاډمۍ قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوریت دکابینې د۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۴) ګڼه مصوبې پربنسټ، په (۴) فصلونو او (۴۴)مادو کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، د افغانستان اسلامي جمهوریت د علومو د اکاډمۍ قانون او دغه فرمان د ملي شوري د

## فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۲۵۴)

تاریخ: ۱۳۹۵/۱۲/۱۴

**مادهٔ اول:**

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ شصت و چهارم و مادهٔ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون اکامی علوم جمهوری اسلامی افغانستان را که بر اساس مصوبهٔ شماره (۲۴) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۲/۱۲ کابینهٔجمهوری اسلامی افغانستان در (۴) فصل و (۴۴) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

وزیرعدلیه و وزیر دولت در امورپارلمانی مؤظف اند، متن قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان و این فرمان را در خلال

لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰ ) ورځو په ترځ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ،د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د يادشوي قانون له متن سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

(۳۰) روز از تاريخ انعقاد نخستين جلسهٔ شورای ملی به آن شورا تقديم نمايند.

مادهٔ سوم:

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ، همراه با مصوبهٔ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور، درجريدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## د افغانستان اسلامي جمهوريت د علومو د اکاډمۍ د قانون د طرحې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې

### مصوبه

ګڼه: (۲۴)

نېټه: ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۵

دافغانستان داساسي قانون د(۷۹) مادې دحکم له مخې، دافغانستان اسلامي جمهوريت دعلومو داکاډمۍ د قانون طرحه چې دافغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۵ نېټې د (۲۴) ګڼه غونډه کې په (۴) فصلونو او (۴۴)مادو کې تصويب شوې دی، د تقنيني فرمان په ترڅ کې نافذېږي.

محمد اشرف غني

دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان درمورد طرح قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۲۴)

تاریخ: ۱۳۹۵/۱۲/۱۲

به تأسی از حکم مادۀ (۷۹)قانون اساسی افغانستان، طرح قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان در (۴) فصل و (۴۴) ماده که در جلسۀ شماره (۲۴) مؤرخ۱۳۹۵/۱۲/۱۲ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان، مورد تصویب قرار گرفته است، طی فرمان تقنینی نافذ می گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات قانون اکادمی علوم
## جمهوری اسلامی افغانستان
## فصل اول
## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۲۰ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۲۰ |
| مادهٔ سوم: | ادارهٔ علمی– تحقیقی | ۲۱ |
| مادهٔ چهارم: | طرزفعالیت | ۲۱ |
| مادهٔ پنجم: | نام اختصاری | ۲۱ |
| مادهٔ ششم: | فعالیت اکادمی علوم | ۲۲ |


## فصل دوم
## وظایف وصلاحیت ها


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ هفتم: | تعیینات | ۲۳ |
| مادهٔ هشتم: | وظایف | ۲۴ |
| مادهٔ نهم: | پذیرش اعضای کادرعلمی | ۲۵ |
| مادهٔ دهم: | تمدید میعاد پروژهٔ علمی–تحقیقی | ۲۵ |
| مادهٔ یازدهم: | مجمع عمومی | ۲۶ |
| مادهٔ دوازدهم: | وظایف و صلاحیت های مجمع عمومی | ۲۶ |
| مادهٔ سیزدهم: | جلسات مجمع عمومی | ۲۷ |
| مادهٔ چهاردهم: | نصاب تدویر جلسات | ۲۸ |
| مادهٔ پانزدهم: | شورای علمی | ۲۸ |

مادهٔ شانزدهم: ترکیب شورای علمی..........۲۸
مادهٔ هفدهم: وظایف وصلاحیت های شورای علمی..........۲۹
مادهٔ هجدهم: تشکیل و بودجه.......... ۳۲
مادهٔ نزدهم: بررسی و تنظیم فعالیت بخش های علمی..........۳۲
مادهٔ بیستم: مراکز علمی اکادمی علوم ..........۳۳
مادهٔ بیست ویکم: هیئت اجرائیهٔ مراکز علمی اکادمی علوم..........۳۴
مادهٔ بیست ودوم: وظایف وصلاحیت های هیئت اجرائیهٔ مرکزعلمی..........۳۴
مادهٔ بیست وسوم: کمیسیون های انسجام..........۳۵

## فصل سوم

## ترکیب اکادمی علوم

مادهٔ بیست وچهارم: ترکیب..........۳٦
مادهٔ بیست وپنجم: انتخاب اکادمیسین ها و کاندیدای اکادمیسین ها..........۳٦
مادهٔ بیست وششم: مرجع ذیصلاح انتخاب اکادمیسین ها..........
وکاندیدای اکادمیسین ها..........۳۸
مادهٔ بیست وهفتم: مکلفیت های اکادمیسین ها و کاندیدای..........
اکادمیسین ها..........۳۹
مادهٔ بیست و هشتم: عضویت مراکز علمی..........۴۰
مادهٔ بیست و نهم: اندازهٔ معاش کادرعلمی ..........۴۰
مادهٔ سی ام : سنجش حقوق تقاعد..........۴۱
مادهٔ سی و یکم: توظیف اعضای علمی در بست های اکادمیک..........۴۳
مادهٔ سی ودوم: امتیاز سند تحصیلی..........۴۳

مادهٔ سی وسوم: حالات قطع حقوق، امتیازات و انفکاک........................ اعضای علمی..............................................۴۳
مادهٔ سی وچهارم: تصنیف رتب علمی........................................۴۵
مادهٔ سی و پنجم: معادلت رتب علمی........................................۴۵
مادهٔ سی و ششم: سن تقاعد..................................................۴۶
مادهٔ سی و هفتم: معرفی کاندیدان واجد شریط اکادمیسین........................ وکاندیدای اکادمیسین........................................۴۶
مادهٔ سی وهشتم: کسب عضویت افتخاری.........................................۴۷

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادهٔ سی ونهم: تبادلهٔ نشرات علمی– تحقیقی.................................۴۸
مادهٔ چهلم: عقد موافقتنامه...............................................۴۸
مادهٔ چهل ویکم: پذیرش کمک ها.............................................۴۸
مادهٔ چهل ودوم : مهر..........................................................۴۹
مادهٔ چهل وسوم: تطبیق سایرقوانین نافذ.......................................۴۹
مادهٔ چهل وچهارم : تاریخ انفاذ.................................................۴۹

## د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د علومود اکاډمۍ قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون دافغانستان د اساسي قانون د اووه څلویښتمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له :

۱- په هېواد کې د علومو په مختلفو برخو کې د پرمخ تللو او هدفمندو علمي څېړنو د ترسره کولو د زمینې برابرول.

۲- په هېواد کې د علم او پوهې د کمي او کیفي ودې د زمینې برابرول او د علومو په مختلفو برخوکې د علمي سویې لوړول.

۳- په هېواد کې د دیني او اسلامي

## قانون اکادمی علوم جمهوری
## اسلامی افغانستان
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ چهل وهفتم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- مهیا ساختن زمینۀ اجرای تحقیقات علمی پیشرفته و هدفمند در عرصه های مختلف علوم در کشور.

۲- فراهم نمودن زمینۀ رشد کمی و کیفی علم و دانش و بلند بردن سویۀ علمی در عرصه های مختلف علوم درکشور.

۳- تقویۀ فرهنگ دینی واسلامی

فرهنګ پیاوړي کول.

## علمي – څېړنیزه اداره

**درېیمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي، په هېواد کې د علمي څېړنو تر ټولو لوړه اداره د خپلواک تشکیل او بودجې لرونکې ده او په ترکیب کې یې د علومو له مختلفو رشتو څخه علماء او پوهان شامل دي.

## د فعالیت ډول

**څلورمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي د علمي– څېړنیزو تګلارو په پام کې نیولو سره فعالیت کوي او په خپلو فعالیتونوکې د اسلام د سپیڅلي دین معتقدات او اساسات، د اساسي قانون، دغه قانون او نورو قوانینو حکمونه د عمل ملاک ګرځوي.

## لنډ نوم

**پنځمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمي، لدې وروسته پدې قانون

درکشور.

## ادارۀ علمی– تحقیقی

**مادۀ سوم:**

اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان عالی ترین ادارۀ تحقیقات علمی در کشور دارای تشکیل و بودجۀ مستقل بوده و در ترکیب آن علماء و دانشمندان از رشته های مختلف علوم شامل می‌باشند.

## طرزفعالیت

**مادۀ چهارم:**

اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان با رعایت روش های علمی– تحقیقی فعالیت نموده و در فعالیت‌های خود، معتقدات و اساسات دین مقدس اسلام، احکام قانون اساسی، این قانون وسایر قوانین را ملاک عمل قرار می‌دهد.

## نام اختصاری

**مادۀ پنجم:**

اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان، در این قانون منبعد به نام

کې د علومو د اکاډمۍ په نوم يادېږي.

## د علومو د اکاډمۍ فعاليت

**شپږمه ماده:**

د علومو اکاډمي د لاندې موخو دتحقق لپاره فعاليت کوي:

۱- د اسلامي، بشري، طبيعي- تخنيکي علومو په برخوکې د علمي څېړنو ترسره کول او په يادو شوو برخو کې د هغو څېړنو سمون او همغږي کول چې د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسسو او نورو علمي – څېړنيزو مؤسسو له خوا د ټولنيز حالت د ښه والي، فرهنګي بډاينې او د ملي اقتصاد د ودې په منظور صورت مومي.

۲- د طبيعي سرچينو او زېرمو اوله هغو څخه د اغېزمنې ګټې اخيستنې د ډول د مطالعو، څېړنو او ارزونې سمون.

۳- د ملي اقتصاد د ودې په برخه کې د ساينس او تکنالوژۍ د ترټولو نوو لاسته راوړنو د کارولو د مناسبو لارو پيداکول.

۴- د هېواد د فرهنګي، ټولنيزې او

اکادمی علوم یاد می‌گردد.

## فعالیت اکادمی علوم

**مادۀ ششم:**

اکادمی علوم جهت تحقق اهداف ذیل فعالیت می‌نماید:

۱- انجام تحقیقات علمی در عرصه های علوم اسلامی، بشری، طبیعی- تخنیکی و انسجام و هم آهنگ ساختن تحقیقات عرصه های ذکر شده که توسط مؤسسات تحصیلات عالی و سایر مؤسسات علمی – تحقیقی کشور به منظور بهبود وضع اجتماعی، غنامندی فرهنگی و رشد اقتصاد ملی صورت می‌گیرد.

۲- انسجام مطالعات، تحقیقات و ارزیابی منابع و ذخایرطبیعی و طرق استفادۀ مؤثر ازآنها.

۳- دریافت طرق مناسب کاربرد جدیدترین دست آوردهای ساینس و تکنالوژی در امر رشد اقتصاد ملی.

۴- تأمین همکاری با

اقتصادي ودې لپاره له دولتي ادارو سره د همکارۍ تأمین.

۵- په هېواد کې د علم او پوهې د کمي او کیفي ودې ښه والی او دهغود کچې لوړېدل.

٦- په هېواد کې له نورو علمي- څېړنیزو ادارو او مؤسسو سره د علمي- څېړنیزو اړیکو تأمین.

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

**ټاکنې**

**اوومه ماده:**

(۱) د علومو د اکاډمۍ لوی رئیس د علومو د اکاډمۍ په سرکې ځای لري چې د علمي رتبو لرونکو پوهانو (اکاډمیسین، نوماند اکاډمیسین، څېړنپوه، څېړنوال یا د هغه معادل) له منځ څخه د جمهور رئیس په واسطه ټاکل کېږي.

(۲) علمي منشي (علمي مرستیال) د علمي او اداري څانګو مرستیالان او رئیسان، د علمي مرکزونو منشیان، د

ادارات دولتی جهت، رشد فرهنگی، اجتماعی و اقتصادی کشور.

۵- بهبود رشد کمی و کیفی و ارتقای سطح علم ودانش در کشور.

٦- تأمین روابط علمی- تحقیقی باسایرادارات ومؤسسات علمی- تحقیقی درکشور.

## فصل دوم

## وظایف وصلاحیت ها

**تعیینات**

**مادهٔ هفتم:**

(۱) رئیس عمومی اکادمی علوم در رأس اکادمی علوم قراردارد که ازمیان دانشمندان دارای رتب علمی (اکادمیسین، کاندیدای اکادمیسین، سرمحقق، معاون سرمحقق ویا معادل آن) توسط رئیس جمهور تعیین می شود.

(۲) منشی علمی (معاون علمی) معاونان ورؤسای بخش‌های علمی و اداری، منشی های مراکز

هغو مرکزونو رئیسان او مرستیالان چې د علومو د اکاډمۍ په خواکې فعالیت کوي او د انستیتونوآمران، د اړوندو تقنیني سندونو له حکمونو سره سم د علومو اکاډمۍ د لوی رئیس په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کېږي.

(۳) د علومواکاډمۍ د دیپارتمنتونو آمران او د اداري او خدماتي برخو کار کوونکي د اړوندو تقنیني سندونو له حکمونو سره سم مقررېږي.

## دندې

**اتمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي په دې قانون او نورو اړوندو تقنیني سندونو کې ددرج شوو دندو په ترسره کولو، مکلف دي.

(۲) دعلومو اکاډمۍ د رئیس، علمي منشي او مرستیالانو دندې په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

(۳) د علمي کادر غړی نه شي کولای په رسمي کاري ساعتونو کې د علومو له اکاډمۍ څخه بهر په دندو اشتغال

علمی، رؤسا ومعاونان مراکزی که درجنب اکادمی علوم فعالیت می‌نمایند و آمران انستیتوت‌ها به پیشنهاد رئیس عمومی اکادمی علوم ومنظوری رئیس جمهورمطابق احکام اسناد تقنینی مربوط تعیین می‌گردند.

(۳) آمران دیپارتمنت ها و کارکنان بخش‌های اداری و خدماتی اکادمی علوم مطابق احکام اسناد تقنینی مربوط مقرر می گردند.

## وظایف

**مادهٔ هشتم:**

(۱) اعضای کادر علمی مکلف به اجرای وظایف مندرج این قانون و سایر اسناد تقنینی مربوط، می‌باشند.

(۲) وظایف رئیس، منشی علمی و معاونان اکادمی علوم در مقررهٔ جداگانه تنظیم می‌گردد.

(۳) عضو کادر علمی در ساعات کاری رسمی نمی تواند به وظایف خارج از اکادمی علوم اشتغال

ولري.د اړتيا په حالت کې او په هغه صورت کې چې د هغه د اصلي دندې د ترسره کولو مانع نشي، د علومو اکاډمۍ په موافقه، د لوړو زده کړو په دولتي مؤسساتوکې تدريس او دولتي اداروته مشوره ورکول له دې امر څخه مستثني دي.

## د علمي کادر دغړو منل

**نهمه ماده:**

د علمي کادر د غړو منل د جلا مقررې په واسطه تنظيمېږي.

## دعلمي–څېړنيزې پروژې د ميعاد تمديد

**لسمه ماده:**

(۱) که چېرې د علومو اکاډمۍ د علمي کادر غړی په ټاکلي ميعاد کې د علمي ترفيع شرايط بشپړ نشي کړای، نوموړی ميعاد تريوې بلې دورې پورې تمديدېږي او د علمي کادر د غړي په توګه په هماغه بست کې پاتې کېږي.

(۲) د تمديد د يوې دورې د وخت ميعاد د نظر وړ علمي ترفيع د ميعاد له

داشته باشد. تدريس در مؤسسات تحصيلات عالی دولتی و مشوره دهی به ادارات دولتی در حالت ضرورت ودر صورتی که مانع اجرای وظيفۀ اصلی وی نگردد، در موافقه با اکادمی علوم از اين امر مستثنی است.

## پذيرش اعضای کادرعلمی

**مادۀ نهم:**

پذيرش اعضای کادر علمی توسط مقررۀ جداگانه تنظيم می‌گردد.

## تمديد ميعاد پروژه علمی–تحقيقی

**مادۀ دهم:**

(۱) هرگاه عضو کادرعلمی اکادمی علوم در ميعاد معينه شرايط ترفيع علمی را تکميل کرده نتواند، ميعاد مذکور الی يک دورۀ ديگر تمديد شده و درهمان بست به حيث عضوکادرعلمی باقی می ماند.

(۲) مدت زمان يک دوره تمديد مساوی به پنجاه(۵۰) فيصد ميعاد

پنځوس (۵۰) سلنې سره مساوي ده.
د تمديد نور شرايط په اړوند تقنيني سند کې تنظيمېږي.
(۳) د شرايطو د بشپړولو په صورت کې لوړو علمي رتبوته د علمي کادر غړي علمي ارتقا او ترفيع، له اړوندو تقنيني سندونو سره سم صورت مومي.

**عمومي مجمع**

**يوولسمه ماده:**
د علومو اکاډمۍ عمومي مجمع، د علومو د اکاډمۍ د تصميم نيونې تر ټولو لوړه مرجع ده، د علومو اکاډمۍ له اکاډميسينانو، نوماند اکاډميسينانو او دعلمي شورې له غړو څخه جوړه ده.

**د عمومي مجمع دندې او واکونه**

**دوولسمه ماده:**
د علومو د اکاډمۍ عمومي مجمع لاندې دندې او واکونه لري:
۱- د علومو په ودې او پرمختيا پورې د اړوندو مسئلو بررسي او د هېواد په کچه د علومو په مختلفو څانگو کې د

ترفيع علمی مورد نظر می باشد.
ساير شرايط تمديد در سند تقنينی مربوط تنظيم می گردد.
(۳) ارتقا و ترفيع علمی عضو کادر علمی به رتب علمی بالاتر در صورت تکميل شرايط مطابق اسناد تقنينی مربوط صورت می‌گيرد.

**مجمع عمومی**

**مادهٔ يازدهم:**
مجمع عمومی اکادمی علوم، عالی ترين مرجع تصميم گيری اکادمی علوم بوده، مرکب از اکادميسين‌ها، کانديدای اکادميسين‌ها و اعضای شورای علمی اکادمی علوم می باشد.

**وظايف و صلاحيت‌های مجمع عمومی**

**مادهٔ دوازدهم:**
مجمع عمومی اکادمی علوم دارای وظايف و صلاحيت‌های ذيل می‌باشد:
۱- بررسی مسايل مربوط به رشد و انکشاف علوم و تعيين جهات اساسی تحقيقات علمی دربخش‌های مختلفهٔ

علمي څېړنو د بنسټيزو لوريو ټاکل.

۲- دعلومو داکاډمۍ دعلمي شورې، اکاډميسينانو او نوماند اکاډميسينانو د فعاليتونو د رپوټ اورېدل او بررسي.

۳- د هغو نوماندانو پورې اړونـــد د علمي سندونو د رپوټ ارزونه چې ددې قانون له حکمونو سره سم د اکاډميسين او يا نوماند اکاډميسين په توګه خپـــل غوښتنليکونه د علومـــو اکـــاډمۍ تـــه وړاندې کوي.

## د عمومي مجمع غونډې

**ديارلسمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ عمومي مجمع په کال کې يوځل غونډه کوي او د لزوم پـــه صورت کې د علومو اکاډمۍ د علمـــي شورې د تصميم پربنسټ، فوق العاده غونډې هم دايرېدای شي.

د علومو اکاډمۍ عمومي مجمع د رئيس په واسطه او د هغهٔ په غياب کې دعلمي منشي يا د علومو اکاډمۍ له مرستيالانو څخه د يوهٔ په واسطه رهبري کېږي.

علوم درسطح کشور.

۲- استماع فعاليت‌ها وبررسی گزارش شـــورای علمـــی اکـــادمی علـــوم، اکادميسين‌ها وکانديدای اکادميسين‌ها.

۳- ارزيـــابی گـــزارش اســـنادعلمی مربوط به نامزدانی کـــه بـــه حيـــث اکادميسين و يا کانديدای اکادميسين، مطابق احکام اين قانون درخواست‌های خويش را به اکـــادمی علـــوم ارائـــه می‌نمايند.

## جلسات مجمع عمومی

**مادهٔ سيزدهم:**

مجمع عمومی اکادمی علوم سال يکبار تشکيل جلسه نموده و درصورت لزوم به اساس تصميم شورای علمی اکادمی علوم، جلسات فوق العاده نيز دايرشده می‌تواند.

مجمع عمومی اکادمی علـــوم توســـط رئيس و درغياب وی توســـط منشـــی علمی و يا يکی از معاونان اکادمی علوم رهبری می‌گردد.

## د غونډو د دايرېدو نصاب

**څوارلسمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ د عمومي مجمع د غونډو نصاب د غړو ددوو ثلثو په حضور سره بشپړېږي. د عمومي مجمع تصميمونه د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت نيول کېږي.

## علمي شوري

**پنځلسمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ علمي شوري، د علومو اکاډمۍ د عمومي مجمع د غونډو ترمنځ واټن کې فعاليت کوي.

## د علمي شوري جوړښت

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د علومو اکاډمۍ علمي شوري له رئيس، علمي منشي، مرستيالانو او د علومو اکاډمۍ د علمي مرکزونو رئيسانو، له هرې برخې څخه د څېړنپوهانو يا څېړنوالانو يويو تن، د اړوندې برخې د غړو په تفاهم، د جنسيتي جوړښت په پام کې نيولو سره او د علومو اکاډمۍ د رئيس په تأييد

## نصاب تدویرجلسات

**مادۀ چهاردهم:**

نصاب جلسات مجمع عمومی اکادمی علوم با حضور داشت دو ثلث اعضاء تکمیل می‌گردد. تصامیم مجمع عمومی با اکثریت آرای اعضای حاضر جلسه اتخاذ می‌گردد.

## شورای علمی

**مادۀ پانزدهم:**

شورای علمی اکادمی علوم در فاصله بین جلسات مجمع عمومی، اکادمی علوم فعالیت می نماید.

## ترکیب شورای علمی

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) شورای علمی اکادمی علوم مرکب از رئیس، منشی علمی، معاونان و رؤسای مراکزعلمی اکادمی علوم، یک یک نفر از سرمحققان یا معاونان سرمحقق از هر بخش، به تفاهم اعضای بخش مربوط، با نظرداشت ترکیب جنسیتی و تائید رئیس اکادمی

مرکبه ده.

(۲) د علومو اکاډمۍ د علمي شـــوري عادي غونډې په هرو پنځلسو ورځوکې یوځل دایرېږي. فوق العاده غونـــډې د علومو اکاډمۍ د علمي منشي یـــا لـــه مرستیالانوڅخه د یوهٔ د وړانـــدیز پـــر بنسټ او د علومو اکاډمۍ د رئیس له تأیید وروسته، دایرېدای شي.

(۳) د علمي شوري د غونډې نصاب د غړو د دوو ثلثو په حضور بشپړېږي او تصمیمونه په غونډه کې دحاضرو غړو د رأیو په اکثریت نیول کېږي.

## د علمـــــي شـــوري دنـــدې او واکونه

اووه لسمه ماده:

(۱) د علومو اکاډمۍ علمي شـــوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د علومو اکاډمۍ د علمي مرکزونو د علمي- څېړنیزو کارونو د پـــلان او نشراتي پلان تصویبول او د هغوی لـــه اجراء څخه کنترول.

۲- د علومو په مختلفو برخو کـــې د

علوم می باشد.

(۲) جلسات عـــــادی شورای علمی اکادمی علوم هر پانزده روزیکبار دایر میگـــردد. جلســـات فـــوق‌العـــاده براساس پیشنهاد منشی علمی و یا یکی از معاونان اکادمی علوم بعد از تائیـــد رئـــیس اکـــادمی علـــوم دایرشـــده می‌تواند.

(۳) نـــصاب جلسهٔ شورای علمی بـــا حضورداشت دوثلث اعضاء تکمیـــل می‌گردد و تصامیم آن به اکثریت آرای اعضای حاضرجلسه اتخاذ می‌گردد.

## وظایف وصلاحیت‌های شـــورای علمی

مادهٔ هفدهم:

(۱) شورای علمی اکادمی علوم دارای وظایف و صلاحیت‌های ذیل می‌باشد:

۱- تصویب پلان کارهـــای علمـــی- تحقیقی مراکز علمی، پلان نشـــراتی اکادمی علوم و کنتـــرول از اجـــرای آنها.

۲- رهنمـــایی علمـــی- تحقیقـــی

علمي مرکزونو علمي- څېړنیزه لاربنوونه.

۳- دافغانستان اسلامي جمهوریت ریاست ته دنوو علمي- څېړنیزو مرکزونو او مؤسسو د را منځته کېدو وړاندیز او د وخت له غوښتنو سره متناسب د علمي- څېړنیزو مؤسسو پراختیا.

۴- عمومي مجمع ته د علومو اکاډمۍ د فعالیتونو په هکله، دکلني رپوټ وړاندې کول.

۵- د نورو هېوادونو د علومو له اکاډمیو او د علمي- څېړنیزو مؤسسو سره دکاري اړیکو پراختیا او ټینګښت.

٦- د ټولنې په اقتصادي او فرهنګي برخوکې د علمي- څېړنیزو لاسته راوړنو دتطبیق لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

۷- د هېواد په دننه او بهرکې د علمي- څېړنیزو سفرونو سازمانول .

۸- د علومو اکاډمۍ د غړو د تخصصي سطحې د لوړولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

مراکزعلمی درعرصه‌های مختلف علوم .

۳- پیشنهاد ایجاد مراکز و مؤسسات علمی- تحقیقی جدید و توسعهٔ مؤسسات علمی- تحقیقی متناسب به ایجابات زمان به ریاست جمهوری اسلامی افغانستان.

۴- ارایهٔ گزارش سالانه دربارهٔ فعالیت‌های اکادمی علوم به مجمع عمومی.

۵- توسعه و تحکیم روابط کاری با اکادمی‌های علوم و مؤسسات علمی- تحقیقی سایر کشورها.

٦- اتخاذ تدابیرلازم جهت تطبیق دست آوردهای علمی- تحقیقی درعرصه‌های اقتصادی و فرهنگی جامعه.

۷- سازماندهی سفرهای علمی- تحقیقاتی در داخل و خارج کشور.

۸- اتخاذ تدابیر لازم جهت ارتقای سطح تخصصی اعضای علمی اکادمی علوم.

۹- په ملي او نړیواله کچــه د علمــي غونـــډو، سیمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو او نورو علمي محفلونــود جوړولو سازمانول.

۱۰- د علمي کادر د غړو د علمي رتبو تصویبول، د علمي – څېړنیزو پروژو، علمي ترفیعاتو او اړوندو پرمختیـــایي پروژو تصویبول.

۱۱- دمقررو طــرح او وړانـــدیز او د لایحو او کړنلارو تصویب.

۱۲- د قانون له حکمونو سره ســم د علومو اکاډمۍ د تشــکیل او بــودجې وړاندیز.

۱۳- د علومو اکاډمۍ د ســتراتیژیکو پلانونو او پالیسیو تأیید او تصویب.

۱۴- له ورته او اړوندو مؤسسوسره د توأمیت د تفاهم لیکونو د عقد، تعدیل، تمدید یا فسخ وړاندیز.

۱۵- ددې قانون له حکمونو سره سم د علمي کادر د غــړو د انفکـــاک او انفصال وړاندیز.

۱٦- ددې قانون د حکمونو له رعایت څخه مراقبت.

۹- سازماندهی تدویر جلسات علمی، سیمینارها، کنفرانس‌ها، ورکشاپ‌ها و سایرمحافل علمی درســطح ملـــی و بین المللی.

۱۰- تصویب رتب علمــــی اعضای کادرعلمی، تصویب پروژه های علمی- تحقیقی، ترفیعات علمی و پروژه های انکشافی مربوط.

۱۱- طرح و پیشنهاد مقـــرره هـــا و تصویب لوایح و طرزالعمل‌ها.

۱۲- پیشـــنهاد تشـــکیل و بودجـــه اکـــادمی علـــوم طبـــق احکـــام قانون.

۱۳- تائید و تصـــویب پـــلان هـــای ستراتیژیک و پالیسی‌های اکادمی علوم.

۱۴- پیشنهاد عقد، تعدیل، تمدید یـــا فسخ تفاهم نامه‌هـــای توأمیـــت بـــا مؤسسات مماثل و ذیربط.

۱۵- پیشنهاد انفکـــاک و انفصـــال اعضای کادر علمی طبق احکام ایـــن قانون.

۱٦- مراقبت ازرعایت تطبیق احکـــام این قانون.

۱۷- د اړوندو تقنیني سندونو له حکمونو سره سم د نورو دندو ترسره کول.

(۲) د علومو اکاډمۍ علمي شوري کولای شي د مؤجهو دلایلو دشتون په صورت کې د علمي شورې د یو ثلث په وړاندیز او د ټولو غړو ددوه ثلث رأیو په تأیید د علمي شورې په مخکینیو تصمیمونو باندې بیاکتنه وکړي.

## تشکیل او بودجه

اتلسمه ماده:

د علومو اکاډمي د خپلواک تشکیل او بودجې لرونکې ده چې د قانون له حکمونو سره سم ترتیب او له پړاوونو څخه تېرېږي.

## د علمي برخو د فعالیت بررسي او تنظیم

نولسمه ماده:

(۱) د علومو د اکاډمۍ علمي څانګې هره یوه د اجرائیه هیئت لرونکې ده او د څانګې له مرستیال، د څانګې له علمي منشي او د اړوندو مرکزونو له رئیسانو

۱۷- انجام سایر وظایف مطابق احکام اسناد تقنینی مربوط.

(۲) شورای علمی اکادمی علوم می تواند در صورت موجودیت دلایل مؤجه به پیشنهاد یک ثلث اعضای شورای علمی و تائید دو ثلث آرای کل اعضاء برتصامیم قبلی شورای علمی تجدید نظر نماید.

## تشکیل و بودجه

مادۀ هجدهم:

اکادمی علوم دارای تشکیل و بودجۀ مستقل بوده که مطابق احکام قانون ترتیب وطی مراحل می گردد.

## بررسی و تنظیم فعالیت بخش‌های علمی

مادۀ نزدهم:

(۱) بخش‌های علمی اکادمی علوم هر یک دارای هیئت اجرائیه بوده و متشکل از معاون بخش، منشی علمی بخش و رؤسای مراکز

ځخه جوړ دی.

(۲) د علومو اکاډمۍ د علمي څانګې ځخه دهرې یوې علمي- څېړنیز فعالیتونه، د اړوندې مرستیالۍ له خوا بررسي او له پړاوونو ځخه تېرېږي.

## د علومو اکاډمۍ علمي مرکزونه

شلمه ماده:

(۱) د علومو د اکاډمۍ علمي مرکزونه د علمي- څېړنیزو فعالیتونو بنسټیزې هستې دي چې د اړوندو علمي رشتو د انستیتیوتونو علمي- څېړنیزې چارې تنظیم او رهبري کوي.

(۲) انستیتیوتونه د مشخصې علمي ساحې علمي- څېړنیز واحدونه دي او له دیپارتمنتونو ځخه جوړ دي.

(۳) د انستیتیوت علمي شوري د انستیتیوت له آمر، علمي منشي او د اړوندو دیپارتمنتونو له آمرینو ځخه جوړه ده.

(۴) دیپارتمنتونه، علمي-څېړنیز لومړني واحدونه دي چې د انستیتیوتونو په چوکاټ کې په خاصو علمي رشتو کې

مربوط می باشد.

(۲) فعالیت‌های علمی- تحقیقی هر یک از بخش‌های علمی اکادمی علوم از طرف معاونیت مربوط بررسی و طی مراحل می‌گردد.

## مراکز علمی اکادمی علوم

مادهٔ بیستم:

(۱) مراکز علمی اکادمی علوم، هسته‌های اساسی فعالیت‌های علمی تحقیقی بوده که امور علمی تحقیقاتی انستیتوت‌های رشته های علمی مربوط را تنظیم و رهبری می نماید.

(۲) انستیتوت‌ها واحدهای علمی- تحقیقی ساحهٔ مشخص علمی بوده و متشکل از دیپارتمنت‌ها می باشد.

(۳) شورای علمی انستیتوت مرکب است از آمر انستیتوت، منشی علمی آن و آمران دیپارتمنت‌های مربوط.

(۴) دیپارتمنت‌ها، واحدهای اولیه علمی- تحقیقی بوده که در چوکات انستیتوت‌ها در رشته های خاص علمی

فعالیت کوي.

**دعلومو اکاډمۍ دعلمي مرکزونـــو اجرائیه هیئت**

**یوویشتمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ علمي مرکزونه هریو اجرائیه هیئت لري چې د علمي مرکز له رئیس، د هغه لـــه علمـــي منشـــي، د انستیتیوتونو له آمرینو، د اړوندو رشتو اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیســـینانو څخه جوړ دي.

**د علمي مرکز د اجرائیـــه هیئـــت دندې او واکونه**

**دوه ویشتمه ماده:**

د علمي مرکز اجرائیه هیئت د لانـــدې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د انستیتیوتونو او د اړوندو رشتو د علمي – څېړنیزو مؤسسو سازمانول او علمي رهبري.

۲- د اړوندو علومو د رشتو د څېړنې د بنستیزو خواوو بررسي.

۳- د هېواد په کچه د اړوندو رشتو د علمي- څېړنیزو مؤسسو د علمـــي-

فعالیت می‌نمایند.

**هیئت اجرائیۀ مراکز علمی اکادمی علوم**

**مادۀ بیست ویکم:**

مراکز علمی اکادمی علوم هـــر یـــک دارای هیئت اجرائیه بوده که متشکل از رئیس مرکز علمی، منشی علمـــی آن، آمران انستیتوت‌ها، اکادمیسین‌هـــا و کاندیدای اکادمیسین‌های رشته هـــای مربوط می باشد.

**وظایف و صلاحیت‌هـــای هیئـــت اجرائیۀ مرکز علمی**

**مادۀ بیست ودوم:**

هیئت اجرائیۀ مرکزعلمی دارای وظایف و صلاحیت‌های ذیل می باشد:

۱- ســـازماندهی و رهبـــری علمـــی انستیتوت‌ها و مؤسســـات علمـــی- تحقیقی رشته های مربوط.

۲- بررسی جهات اساســـی تحقیـــق رشته های علوم مربوط.

۳- ارزیابی فعالیت‌ها و نتایج علمی- تحقیقی مؤسسات علمـــی- تحقیقـــی

څېړنيزو فعــاليتونو او علمـــي پــايلو ارزول.

۴- د اړونـــــدو مؤقتـــو او دايمـــي کمېسيونونو د چارو سازمانول.

۵- د اړونـــدو رشـــتو د ســـمون د کمېسيونونو علمي- مېتوديکه رهبري او د هغوی د چارو پرمخبيول.

٦- د اړوندو علمي مؤسسو د علمي- څېړنيزو کارونو د پـــلان بررســـي او تصويبول.

۷- له پړاوونو څخه د علمي مرکـــز پورې د اړوندو غړو د علمـــي ترفيـــع ګانود سندونو تېرول.

## د سمون کمېسيونونه

**درويشتمه ماده:**

(۱)د علومـــو د مختلفـــو رشـــتو د سمون کمېسيونونه د علومو اکاډمۍ په علمي څانګو کې د هېواد پـــه کچـــه رامنځته کېږي.

(۲) د هغوی جوړښت، دندې، واکونه او نور مسئوليتونه د جلا مقـــررې پـــه واسطه تنظيمېږي.

رشته‌های علمـــی مربـــوط درســـطح کشور.

۴- سازماندهی امور کمیسیون‌هـــای دایمی و مؤقت مربوط.

۵- رهبـــری علمـــی- میتودیـــک کمیسیون‌های انسجام رشته‌های مربوط و پیشبرد امور آنها.

٦- بررسی و تصویب پلان کارهـــای علمی- تحقیقی مؤسســـات علمـــی مربوط .

۷- طی مراحـــل اســـناد ترفیعـــات علمی اعضـــای مربـــوط بـــه مرکـــز علمی.

## کمیسیون‌های انسجام

**مادۀ بیست و سوم:**

(۱)کمیسیون‌های انسجام رشته هـــای مختلف علوم در بخش‌هـــای علمـــی اکادمی علوم در سطح کشور ایجـــاد می‌شوند.

(۲) ترکیب، وظایف و صلاحیت‌ها و سایر مسئولیت‌های آنها توسط مقـــررۀ جداگانه تنظیم  می گردد.

## دریم فصل

## دعلومو اکاډمۍ ترکیب

**ترکیب**

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) د علومو اکاډمۍ په ترکیب کې اکاډمیسینان، نوماند اکاډمیسینان، څېړنپوهان، څېړنوالان، څېړندویان، څېړنیاران او د علومو اکاډمۍ افتخاري غړي شامل دي.

(۲) د علومو اکاډمۍ د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو شمېر اوجوړښت د علومو اکاډمۍ د علمي شورې په واسطه تصویب او د جمهور رئیس له خوا منظورېږي.

**د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو انتخاب**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) د علومو اکاډمۍ د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو د څوکیو د احراز لپاره هغه څېړنپوهانو، پوهاندانو

## فصل سوم

## ترکیب اکادمی علوم

**ترکیب**

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱) در ترکیب اکادمی علوم، اکادمیسین‌ها، کاندیدای اکادمیسین‌ها، سرمحققان، معاونان سرمحقق، محققان، معاونان محقق و اعضای افتخاری اکادمی علوم شامل می باشند.

(۲) تعداد و ترکیب اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌های اکادمی علوم توسط شورای علمی اکادمی علوم تصویب و از طرف رئیس جمهور منظور می‌گردد.

**انتخاب اکادمیسین‌ها وکاندیدای اکادمیسین‌ها**

**مادۀ بیست و پنجم:**

(۱) برای احراز کرسی‌های اکادمیسین و کاندیدای اکادمیسین اکادمی علوم، آن سرمحققان، پوهاندها و معادل آنها

او له هغو سره معادل چې ملي او بین المللي علمي شهرت ولري، دلاندې شرایطو په بشپړېدو سره نوماند کېدای شي:

۱- د اکاډمیسین د رتبې لپاره لږترلږه د علمي معیارونو لرونکي څلوېښت (۴۰)خپرو شوو تخصصي آثارو لرل چې له جملې یې لس (۱۰) اثره نوښتي او ابداعي او دوه (۲) اثره یې له نړیوالو اعتبار لرونکو خپرونو څخه په یوې کې خپاره شوي وي.

۲- د نوماند اکادمیسین د رتبې لپاره لږترلږه د علمي معیارونو لرونکي دېرشو(۳۰)خپرو شوو تخصصي آثارو لرل چې له جملې څخه یې پنځه (۵) اثره نوښتي او ابداعي او یو(۱) اثر یې له نړیوالو اعتبار لرونکو خپرونو څخه په یوې کې خپور شوی وي.

(۲) د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو د علمي آثارو ارزونه او تأیید د ارزونې د واکمن علمي کمېسیون له خوا صورت مومي.

که دارای شهرت علمی ملی و بین المللی باشند، با اکمال شرایط آتی نامزد شده می‌توانند:

۱- برای رتبهٔ اکادمیسین داشتن حداقل چهل (۴۰) اثر نشر شدهٔ تخصصی دارای معیارهای علمی که از جمله ده (۱۰) اثر آن ابتکاری و ابداعی و دو (۲) اثر آن دریکی از نشریه های معتبر بین المللی نشرگردیده باشد.

۲- برای رتبهٔ کاندیدای اکادمیسین حداقل داشتن سی (۳۰) اثر نشر شدهٔ تخصصی دارای معیارهای علمی که از جمله پنج (۵) اثر آن ابتکاری و ابداعی و یک (۱) اثر آن در یکی از نشریه های معتبر بین المللی نشر گردیده باشد.

(۲) ارزیابی و تائید آثارعلمی اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها از طرف کمیسیون ارزیابی با صلاحیت علمی صورت می‌گیرد.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج د ارزونې د کمېسیون غړي د علومو اکاډمۍ د علمي شورې په واسطه ټاکل کېږي.

## د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو د انتخاب واکمنه مرجع

**شپږ ویشتمه ماده:**

(۱) د علومو اکاډمۍ د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو د شرایطو د بشپړېدو او د ارزونې د کمېسیون د تأیید په صورت کې، د علومو اکاډمۍ د عمومي مجمع له خوا د پټو او مستقیمو رأیو له لارې د ټولو غړو د رأیو په اکثریت سره غوره او د جمهور رئیس له خوا منظورېږي.

(۲)د علومو اکاډمۍ عمومي مجمع، د اکاډمیسینانو او نوماند اکاډمیسینانو د غوره کولو په منظور ( د تشې څوکۍ د شتون په صورت کې ) له هرو درېوکلونو وروسته دایرېږي.

(۳) اعضای کمیسیون ارزیابی مندرج فقرۀ (۲) این ماده توسط شورای علمی اکادمی علوم تعیین می‌گردند.

## مرجع ذیصلاح انتخاب اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها

**مادۀ بیست و ششم:**

(۱) اکادمیسین‌ها وکاندیدای اکادمیسین‌های اکادمی علوم درصورت اکمال شرایط و تائید کمیسیون ارزیابی، توسط مجمع عمومی اکادمی علوم از طریق رأی سری و مستقیم به اکثریت آرای کل اعضای آن انتخاب و از طرف رئیس جمهور منظور می‌گردد.

(۲) مجمع عمومی اکادمی علوم طور اختصاصی به منظور انتخاب اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها (در صورت موجودیت کرسی خالی) بعد از هر سه سال دایر می گردد.

د اکاډميسينانو او نوماند اکاډميسينانو د ټاکلو لپاره د عمومي مجمع د غونډې د جوړېدو نېټه د علومو اکاډمۍ د علمي شورې په واسطه ټاکل کېږي.

د اکاډميسينانو او نوماند اکاډميسينانو مکلفيتونه

اووه ويشتمه ماده:

د علومو اکاډمۍ اکاډميسينان او نوماند اکاډميسينان لاندې مکلفيتونه لري:

۱- د علومو په اکاډمۍ او د هېواد په نورو علمي- څېړنيزو ادارو کې، په نوو علمي اکتشافاتو کې اغېزمنه ونډه اخيستنه او د انفرادي او ډله ايزو علمي څېړنو رهبري او سازمانول.

۲- د هېواد د فرهنګي، ټولنيزې او اقتصادي ودې دجاري پلانونو او لرليد په طرح او تدوين کې ونډه اخيستنه.

۳- د ټولنې په فرهنګي، ټولنيزو او اقتصادي برخوکې د ستونزو د حل د لارې او د علمي- تخنيکي لاسته راوړنو د کارولو د ډول او د طرحو

تاریخ برگزاری مجمع عمومی برای انتخاب اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها توسط شورای علمی اکادمی علوم تعیین می‌گردد.

مکلفیت‌های اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها

مادۀ بیست وهفتم:

اکادمیسین‌ها وکاندیدای اکادمیسین- های اکادمی علوم دارای مکلفیت‌های ذیل می‌باشند:

۱- سهم گیری مؤثر در اکتشافات جدید علمی و رهبری و سازماندهی تحقیقات علمی انفرادی و دسته جمعی در اکادمی علوم و سایر ادارات علمی- تحقیقی کشور.

۲- سهم گیری در طرح و تدوین پلان‌های جاری و دور نمای رشد فرهنگی، اجتماعی و اقتصادی کشور.

۳- ارایۀ طرح‌های راه حل مشکلات و نحوۀ کاربرد دست آوردهای علمی تخنیکی درعرصه‌های اقتصادی، اجتماعی

وړاندې کول.

۴- د علومو اکاډمۍ د علمي غړو د علمي او تخصصي کچې په لوړولو کې برخه اخیستنه.

۵- د علومو اکاډمۍ د عمومي مجمع او د علمي مرکز د اړوندې شعبې په کارکې اغېزمنه ونډه اخیستنه.

٦- د علومو اکاډمۍ اړونـد علمـي مرکز او عمومي مجمع تــه د کلنــي فعالیت د رپوټ وړاندې کول.

## د علمي مرکزونو غړیتوب

**اته ویشتمه ماده:**

اکاډمیسینان، نوماند اکاډمیسینان او نور علمي غړي د خپلې تخصصي رشــتې سره سم د علومو اکاډمۍ لــه علمــي مرکزونو څخه یوهٔ غړی دی.

## د علمي کادر د معاش اندازه

**نهه ویشتمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ د علمي کادر د غړو د میاشتني معاش اندازه په لانــدې ډول ده:

۱- څېړنیـــار پنځـــه ویشـــت زره

و فرهنگی جامعه.

۴- سهم گیری درارتقای سطح علمی و تخصصی اعضای علمــی اکــادمی علوم.

۵- سهم گیــری مؤثر درکارمجــمع عمومی اکادمی علــوم و شعبهٔ مربوط مرکزعلمی.

٦- ارایهٔ گـــزارش فعالیت سالانه بــه مرکزعلمی مربوط و مجمع عمــومی اکادمی علوم.

## عضویت مراکز علمی

**مادهٔ بیست وهشتم:**

اکادمیسین‌ها، کاندیدای اکادمیسین‌ها و سایر اعضای علمی مطابق به رشــتهٔ تخصصی خویش عضو یکی از مراکز علمی اکادمی علوم می‌باشند.

## اندازهٔ معاش کادر علمی

**مادهٔ بیست ونهم:**

انــدازهٔ معــاش مــاهوار اعضــای کادر علمی اکادمی علــوم قرارذیــل می باشد:

۱- معاون محقق مبلغ، بیست و پــنج

(۲۵۰۰۰)افغانی.

۲- څېړنـــدوی شــپږ دیـــرش زره(۳٦۰۰۰)افغانۍ.

۳- څېړنـــــوال پنځـــوس زره (۵۰۰۰۰)افغانۍ.

۴- څېړنپـــوه پنځـــه شـــپېته زره (٦۵۰۰۰)افغانۍ.

۵- نوماند اکاډمیسین د علمي رتبــې پرمعـــاش برســـېره لـــس زره (۱۰۰۰۰)افغانۍ.

٦- اکاډمیســـین د علمـــي رتبــې پرمعـــاش برســـېره پـــنځلس زره (۱۵۰۰۰)افغانۍ.

## د تقاعد د حقوقو سنجش

**دېرشمه ماده:**

(۱) اکاډمیسینان، نوماند اکاډمیسینان او د علومو اکاډمۍ نور علمي غړي په هغه صورت کې چې د علمي مرکـــز د ریاست یا د انستیتیوتونو او دیپارتمنتونو د آمریتونو په بست، یا د علمي مرکز یا انستیتیوت په ځانګه کې د علمـي منشي په توګه دنده ترسره کـړي، د

هزار(۲۵۰۰۰) افغانی.

۲- محقق مبلغ، سی وشـش هــزار (۳٦۰۰۰) افغانی.

۳- معاون سرمحقق مبلـغ، پنجـاه هزار(۵۰۰۰۰) افغانی.

۴- سرمحقق مبلغ، شصـت و پـنج هزار(٦۵۰۰۰) افغانی.

۵- کاندیـدای اکادمیســین عــلاوه برمعـــاش رتبـــۀ علمـــی مبلـــغ، ده هزار(۱۰۰۰۰) افغانی.

٦- اکادمیسین علاوه برمعاش رتبـۀ علمی مبلغ، پانزده هــزار(۱۵۰۰۰) افغانی.

## سنجش حقوق تقاعد

**مادۀ سی ام:**

(۱) اکادمیســـین‌هـــا، کاندیـــدای اکادمیسین‌ها و سایر اعضای علمـــی اکادمی علوم در صورتی که در بست ریاست مرکز علمـــی، یـــا آمریـــت انستیتوت‌ها و دیپارتمنت‌ها و یـــا بـــه حیـــث منشـــی علمـــی در بخـــش، مرکز علمی یـــا انســـتیتوت ایفـــای

خپلې علمي رتبې د پنځوس (۵۰)سلنې معادل معاش مستحق دی چې د تقاعد د حقوقو په سنجش کې د خدمت د مودې په تناسب د محاسبې وړ دی.

(۲) هر ډول زياتوالی چې د علومو اکاډمۍ د برحالو علمي غړو په معاش کې راشي، متناسباً د متقاعدو علمي غړو په حقوقو کې هم زياتېږي.

(۳) هغه اکاډميسينان، نوماند اکاډميسينان او د علومو د اکاډمۍ نور علمي غړي چې په نورو دولتي ادارو کې دنده ترسره کوي، د هغوی معاش د قانون له حکمونو سره سم دهغې ادارې له خوا چې په هغې کې کار کوي ورکول کېږي.

(۴) د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمي کولای شي، ددې قانون په نهه ويشتمه ماده کې د درج شوي معاش اندازه د پولي بدلونونو په پام کې نيولو سره د ماليې وزارت له موافقې او د جمهور رئيس له منظورۍ څخه وروسته، زيات يا کم کړي.

وظيفه نمايند، مستحق معاش معادل پنجاه(۵۰) فيصد رتبه علمی خويش می‌باشند که در سنجش حقوق تقاعد به تناسب مدت خدمت قابل محاسبه می باشد.

(۲) هرنوع افزودی که درمعاش اعضای علمی برحال اکادمی علوم به عمل آيد، متناسباً به حقوق اعضای علمی متقاعد نيز افزود می‌گردد.

(۳) اکادميسين‌ها، کانديدای اکادميسين‌ها و ساير اعضای علمی اکادمی علوم که در ساير ادارات دولتی ايفای وظيفه می‌نمايند، معاش آنها از طرف ادارهٔ که در آن کار می‌کنند مطابق احکام قانون پرداخته می شود.

(۴) اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان می تواند، با نظرداشت نوسانات پولی، اندازهٔ معاش مندرج مادهٔ بيست ونهم اين قانون را بعد از موافقهٔ وزارت ماليه و منظوری رئيس جمهور تزئيد يا تنقيص نمايد.

## په اکادمیکو بستونو کې د علمي غړو توظیف

**یو دېرشمه ماده:**

**(۱) هغه شمېر د علمي کادر غړي چې د علومو اکاډمۍ په دننه کې د ادارې د لزوم دید پر اساس، له خپلو اړوندو څانګو او مرکزونو څخه د باندې ټاکل کېږي، د هغوی بستونه په اړوندو علمي څانګو کې ساتل کېږي.**

**(۲) د علمي رتبو نوماندان یوازې د علمي غړو په توګه تقرر حاصلولای شي.**

## د تحصیلي سند امتیاز

**دوه دېرشمه ماده:**

**د علومو اکاډمۍ غړي د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا د تحصیلي سندونو د امتیاز مستحق دي چې د قانون له حکمونو سره سم ورکول کېږي.**

## د علمي غړو د حقوقو او امتیازونو د قطع او انفکاک حالتونه

**درې دېرشمه ماده:**

**د اکاډمیسینانو، نوماند اکاډمیسینانو او**

## توظیف اعضای علمی در بست‌های اکادمیک

**مادۀ سی و یکم:**

**(۱)آنعده اعضای کادرعلمی که بنا بر لزوم دید اداره، خارج از بخش‌ها و مراکز مربوط شان در داخل اکادمی علوم تعیین می‌شوند، بست‌های آنها دربخش‌های علمی مربوط حفظ می گردد.**

**(۲) نامزدان رتب علمی صرف به حیث اعضای علمی تقرر حاصل نموده می‌توانند.**

## امتیاز سند تحصیلی

**مادۀ سی و دوم:**

**اعضای اکادمی علوم مستحق امتیاز سند تحصیلی لیسانس، ماستری ودکتورا می باشند که مطابق احکام قانون پرداخته می شود.**

## حالات قطع حقوق، امتیازات و انفکاک اعضای علمی

**مادۀ سی و سوم:**

**حقوق وامتیازات مادی اکادمیسین‌ها،**

د علومو اکاډمۍ د نورو علمي غړو مادي حقوق او امتیازونه په لاندې حالتونو کې قطع کېږي:

۱- د علمي شورې په تشخیص او د جمهور رئیس په منظورۍ په علمي- څېړنیزو فعالیتونو کې نه بریالیتوب.

۲- د علمي شورې په تشخیص او د جمهور رئیس په منظورۍ ددې قانون د حکمونو د مغایرو فعالیتونو سرته رسول.

۳- د واکمنې محکمې له خوا د ملي خیانت په جرم محکومېدل.

۴- د علمي شورې له تصویب وروسته په ټاکلي میعاد کې لوړې علمي رتبې ته د ترفیع د شرایطو نه پوره کول.

۵- په هغه صورت کې چې د علومو اکاډمۍ له لورې معرفي شوی وي په هېواد کې دننه یا بهر د ماستري یا دوکتورا له پروګرام څخه د فراغت د سند نه ترلاسه کول.

کاندیدای اکادمیسین‌ها و سایر اعضای علمی اکادمی علوم در حالات ذیل قطع می‌گردد:

۱- عدم مؤفقیت درفعالیت‌های علمی- تحقیقی به تشخیص شورای علمی ومنظوری رئیس جمهور.

۲- انجام فعالیت‌های مغایر احکام این قانون به تشخیص شورای علمی ومنظوری رئیس جمهور.

۳- محکومیت به جرم خیانت ملی ازطرف محکمۀ ذیصلاح.

۴- تکمیل ننمودن شرایط ترفیع به رتبۀ علمی بالاتر در طی میعاد معینه، بعد ازتصویب شورای علمی.

۵- عدم کسب سند فراغت از پروگرام ماستری یا دکتورا در داخل یا خارج کشور در صورتی که از طرف اکادمی علوم معرفی شده باشد.

## د علمي رتبو تصنيف

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) د علومو په اکاډمۍ کې د علمي غړو رتبې، د تحصيل درجې او علمي سويې ته په پام سره په لاندې ډول تصنيف کېږي:

۱- څېړنيار- (JUNIOR ASSISTANT RESERCHASSISTANT ) PROFESSOR

۲- څېړندوی- RESERCHER (ASSISTANT PROFESSOR)

۳- څېړنوال- RESERCH PROFESSOR) FELLOW(ASSOCIATE

۴- څېړنپوه- SENIOR RESERCH FELLOW (PRORESSOR)

(۲) د علومو د اکاډمۍ د علمي کادر غړي په علمي او عملي چارو کې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو علمي القابو څخه د ګټې اخيستنې حق لري.

## د علمي رتبو معادلت

**پنځه دېرشمه ماده:**

د لوړوزده کړو د مؤسسو او د قانون جوړونې او د علمي- حقوقي څېړنو د چارو د انستيتوت له علمي رتبو سره د علومو اکاډمۍ د علمي کادر د علمي

## تصنيف رتب علمي

**مادۀ سی وچهارم:**

(۱) رتب اعضای علمی در اکادمی علوم، با نظر داشت درجۀ تحصیل و سویۀ علمی قرار ذیل تصنیف می‌گردد:

۱- معاون محقق- JUNIOR RESERCHASSISTANT ) ASSISTANT PROFESSOR

۲- محقق - RESEARCHER (ASSISTANT PROFESSOR)

۳- معاون سر محقق - RESEARCH FELLOW (ASSOCIATE PROFESSOR)

۴- سر محقق- SENIOR (PROFESSOR) RESEARCH FELLOW

(۲) اعضای کادر علمی اکادمی علوم حق استفاده از القاب علمی مندرج فقرۀ (۱) این ماده را در امور علمی و عملی دارا می باشند.

## معادلت رتب علمی

**مادۀ سی و پنجم:**

معادلت رتب علمی کادر علمی اکادمی علوم با رتب علمی مؤسسات تحصیلات عالی و انستیتوت امور قانونگذاری و تحقیقات علمی -

رتبو معادلت، د جلا مقررې سره سم تنظیمېږي.

**د تقاعد سن**

**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) اکاډمیسین او نوماند اکاډمیسین د اویا (۷۰) کلني سن له بشپړولو وروسته او څېړنپوهان، څېړنوالان او نور علمي غړي د پنځه شپیته(٦۵) کلني سن له بشپړلو وروسته، تقاعد ته سوق کېږي.

(۲) که چېرې د علمي کادر متقاعد غړی بشپړه فزیکي او فکري توانمني ولري، د علومو اکاډمۍ د علمي شوري په وړاندیز، د علومو اکاډمۍ د رئیس په تأیید او د جمهور رئیس په منظورۍ هرځل په کال کې د پنځو کلونو مودې لپاره له هغه سره بالمقطع قرارداد عقد کېدای شي.

**د اکاډمیسین او نوماند اکاډمیسین شرایطو لرونکو نوماندانو پیژندنه**

**اووه دېرشمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ، دلوړو زده کړو

حقوقی، طبق مقررهٔ جداگانه تنظیم می‌گردد.

**سن تقاعد**

**مادهٔ سی و ششم:**

(۱) اکادمیسین‌ها و کاندیدای اکادمیسین‌ها بعد از تکمیل سن هفتاد (۷۰) سالگی و سر محققان، معاونان سرمحقق و سایر اعضای علمی بعد از تکمیل سن شصت و پنج (٦۵) سالگی به تقاعد سوق می گردند.

(۲) هرگاه عضوکادرعلمی متقاعد، توانایی کامل فزیکی و فکری را داشته باشد به پیشنهاد شورای علمی اکادمی علوم، تائید رئیس اکادمی علوم ومنظوری رئیس جمهور، همه ساله برای مدت پنج سال با وی قرارداد بالمقطع عقد شده می تواند.

**معرفی کاندیدان واجد شرایط اکادمیسین و کاندیدای اکادمیسین**

**مادهٔ سی و هفتم:**

شوراهای علمی اکادمی علوم،

مؤسسې او د دولتي ادارو د علمي– څېړنيزو مؤسسو علمي شوري ګانې کولای شي، ددې قانون له حکمونو سره سم خپل د شرايطو لرونکي پوهان د اکاډميسين او نوماند اکاډميسين د څوکيو د احراز لپاره، د هغوی له اړوندو آثارو او سندونو سره يوځای، د علومو اکاډمۍ ته ور وپېژني.

## د افتخاري غړيتوب لاسته راوړل

اته دېرشمه ماده:

(۱) ددې قانون په اووه دېرشمه ماده کې درج شوي مراجع کولای شي د هغو پوهانو له ډلې څخه چې د هېواد د علم او فرهنګ د ودې په برخه کې يې ستر خدمتونه ترسره کړي دي،د افتخاري غړيتوب د لاسته راوړلو لپاره وړانديز کړي چې د علمي شورى له تأييد وروسته د علومو اکاډمۍ افتخاري غړيتوب ته منل کېږي.

(۲) دبهر سرشناسه پوهان او شخصيتونه د علومو اکاډمۍ د رئيس په وړانديز او د علمي شوري په تصويب،

مؤسسات تحصيلات عالی و مؤسسات علمی– تحقيقی ادارات دولتی می توانند، دانشمندان واجد شرايط خويش را جهت احراز کرسی‌های اکادميسين و کانديدای اکادميسين طبق احکام اين قانون توأم با آثار واسناد مربوط شان به اکادمی علوم معرفی نمايند.

## کسب عضويت افتخاری

مادۀ سی و هشتم:

(۱) مراجع مندرج مادۀ سی و هفتم اين قانون می‌توانند از جمله دانشمندانی که خدمات برجسته يی را در رشد علم و فرهنگ کشور انجام داده اند، جهت کسب عضويت افتخاری پيشنهاد نمايند که بعداز تائيد شورای علمی به عضويت افتخاری اکادمی علوم پذيرفته می شوند.

(۲) دانشمندان و شخصيت‌های سرشناس خارج به پيشنهاد رئيس اکادمی علوم و تصويب شورای علمی،

د علومو اکاډمۍ د افتخاري غړو په توګه منل کېدای شي.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**د علمي- څېړنیزو خپرونو تبادله**

**نهه دېرشمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ کولای شي خپلې علمي-څېړنیزې خپرونې، د مماثلو او اړوندو کورنیو او بهرنیو هېوادونو له ورته علمي- څېړنیزو نشراتي مؤسسو سره تبادله کړي.

**د موافقه لیک عقد**

**څلوېښتمه ماده:**

د علومو اکاډمۍ کولای شي د نورو دولتونو د علومو له اکاډمۍ، علمي- څېړنیزو مؤسسو او ادارو سره د قانون له حکمونو سره سم موافقه لیک عقد کړي.

**د مرستو منل**

**یو څلوېښتمه ماده:**

(۱) د علمي- څېړنیزو خدمتونو څخه

به حیث اعضای افتخاری اکادمی علوم پذیرفته شده می‌توانند.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**تبادلهٔ نشرات علمی- تحقیقی**

**مادهٔ سی ونهم:**

اکادمی علوم می تواند نشرات علمی- تحقیقی خویش را با مؤسسات نشراتی علمی- تحقیقی مماثل و ذیربط داخلی وکشورهای خارجی تبادله نماید.

**عقد موافقتنامه**

**مادهٔ چهلم:**

اکادمی علوم می تواند با اکادمی علوم، مؤسسات و ادارات علمی- تحقیقی سایر دول مطابق احکام قانون، موافقتنامه عقد نماید.

**پذیرش کمک‌ها**

**مادهٔ چهل و یکم:**

(۱) عواید ناشی از عرضهٔ خدمات

راپیداشوي عواید د علومو اکاډمۍ د مالي واحد په واسطه راټولیږي او د دولت د ورداتو په حساب بانک ته تحویلیږي.

(۲) د علومو اکاډمۍ کولای شي د کورنیو او بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو مرستې، د قانون له حکمونو سره سم، جلب کړي.

## مهر

دوه څلوېښتمه ماده:

د علومو اکاډمۍ د مخصوص مهر لرونکې ده چې په هغه کې د ادارې نوم او د افغانستان د اسلامي جمهوریت نښان درج دی.

## د نورو نافذو قوانینو تطبیق

درې څلوېښتمه ماده:

دعلومو اکاډمي د غړو د ذاتي چارو نور موارد د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د حکمونو تابع دي.

## د انفاذ نېټه

څلورڅلوېښتمه ماده:

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او

علمی - تحقیقی توسط واحد مالی اکادمی علوم جمع آوری و به حساب واردات دولت تحویل بانک می‌گردد.

(۲) اکادمی علوم می‌تواند کمک های اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی را مطابق احکام قانون جلب نماید.

## مهر

مادهٔ چهل ودوم:

اکادمی علوم دارای مهر مخصوص است که در آن اسم اداره و نشان جمهوری اسلامی افغانستان درج می باشد.

## تطبیق سایرقوانین نافذ

مادهٔ چهل وسوم:

سایر موارد امورذاتی اعضای اکادمی علوم تابع احکام قانون کارکنان خدمات ملکی می باشد.

## تاریخ انفاذ

مادهٔ چهل و چهارم:

این قانون از تاریخ توشیح، نافذ و

په رسمي جريده کې خپرېږي. په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۷/۴/۳ هـ.ش نېټې په (۹۴۹) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د علومو د اکاډمۍ قانون، د ۱۳۸۷/۱۲/۱۰ هـ.ش نېټې په (۹۷۴) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د افغانستان اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمۍ د قانون (۱) گڼه ضميمه، د ۱۳۹۵/۱/۳۰ هـ.ش نېټې په (۱۲۱۰) گڼې رسمي جريده کې خپرې شوې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمۍ د (۱) گڼې ضميمې د اووه ويشتمې مادې او د ځينو موادو تعديل او د هغه نور مغاير حکمونه ملغی گڼل کېږي.

در جريدهٔ رسمی نشر می گردد. با انفاذ آن قانون اکادمی علوم منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۴۹) مؤرخ ۱۳۸۷/۴/۳هـ. ش، ضميمهٔ شماره (۱) قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۷۴) مؤرخ ۱۳۸۷/۱۲/۱۰، تعديل مادهٔ بيست و هفتم و برخی از مواد ضميمهٔ شماره (۱) قانون اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۲۱۰) مؤرخ ۱۳۹۵/۱/۳۰ و ساير احکام مغاير آن ملغی شمرده می‌شود.

**د ځمکنیو نقلیه وسایطو د ګرځېدو د جواز(جواز سیر) د مقررې د ځینو مادو د ایزاد او تعدیل د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس**

**حکم**

ګڼه: (۴۳۵٦)

نېټه: ۱۷/ ۱۲/ ۱۳۹۵

**لومړۍ ماده:**

د ځمکنیو نقلیه وسایطو د ګرځېدو د جواز(جواز سیر) د مقررې د ځینو مادو ایزاد او تعدیل چې د افغانستا ن اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۱) ګڼې غونډه کې د (۳) مادو په دننه کې تصویب شوي دي، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم د کابینې له مصوبې او د یادې شوې مقررې د ایزاد او تعدیل له متن سره یوځای، په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**حکم**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ ایزاد و تعدیل برخی مواد مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیهٔ زمینی**

شماره: (۴۳۵٦)

تاریخ: ۱۳۹۵/۱۲/۱۷

**مادهٔ اول:**

ایزاد و تعدیل برخی مواد مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیه زمینی را که در جلسهٔ شماره (۲۱) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۰/۱۵ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینه و متن ایزاد و تعدیل مقررهٔ متذکره از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د ځمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو
د جواز(جواز سير) د مقررې د
ځينو مادو د ايزاد او تعديل په هکله
د افغانستان اسلامي جمهوريت د
کابينې
مصوبه

ګڼه: (۲۱)
نېټه: ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵

د ځمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو د جواز(جواز سير) د مقررې د ځينو مادو ايزاد او تعديل چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵ نېټې په غونډه کې د (۳) مادو په دننه کې تصويب شوي دي، منظوروم.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

مصوبهٔ
کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان
در مورد ایزاد و تعدیل
برخی مواد مقررهٔ
جواز سیر وسایط نقلیه
زمینی

شماره: (۲۱)
تاریخ: ۱۳۹۵/۱۰/۱۵

ایزاد و تعدیل برخی مواد مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیه زمینی را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۵/۱۰/۱۵ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

**د ځمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو د جواز(جواز سير) د مقررې د ځينو مادو ايزاد او تعديل**

**لومړۍ ماده:**

د ۳/ ٦/ ۱۳۸٦ نېټې په (۹۲۷) ګڼه رسمي جريده کې خپرې شوې د ځمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو د جواز د مقررې د شپږمې مادې د(۵) فقرې په توګه دې لاندې متن ايزاد شي:

**شپږمه ماده:**

(۵) د ملي شوري د غړو د نقليه وسايطو د ګرځېدو جواز او نمبر پلېټ، له اړوندې کړنلارې سره سم، د ترافيکو د ادارې په واسطه برابر، وېشل او ثبتېږي.

**دوه يمه ماده:**

دځمکنيونقليه وسايطو دګرځېدو دجواز دمقررې د اتلسمې مادې (۱ او۲) جزونه دې په لاندې متن تعديل شي:

**اتلسمه ماده:**

د نقليه واسطې نمبر پلېټ د هغې د تعلقيت له په پام کې نيولو سره، د

**ايزاد و تعديل برخی مواد مقررهٔ جوازسير وسايط نقليه زمينی**

**مادهٔ اول:**

متن ذيل به حيث فقرهٔ (۵) مادهٔ ششم مقررهٔ جوازسيروسايط نقليه زمينی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۹۲۷) مؤرخ ۱۳۸٦/٦/۳ ايزاد گردد:

**مادهٔ ششم:**

(۵)جواز سير و نمبر پليت وسايط نقليه اعضای شورای ملی، طبق طرزالعمل مربوط توسط ادارهٔ ترافيک تهيه،توزيع و ثبت می گردد.

**مادهٔ دوم:**

اجزای(۱و۲)مادهٔ هجدهم مقررهٔ جواز سير وسايط نقليه زمينی به متن ذيل تعديل گردد:

**مادهٔ هجدهم:**

نمبر پليت واسطه نقليه با نظر داشت تعلقيت آن دارای مشخصات ذيل

لاندې مشخصاتو لرونکی دی:

۱- د ولسي جرګې د اداري هیئت او غړو د دولتي تېز رفتار نقلیه واسطې لپاره نمبر پلېټ چې په تور رنګ د متن، د (و – ج) توریو او په سپین رنګه د اعدادو لرونکی وي ، له (۱۱۱۱) ګڼې څخه د ولسي جرګې د (۲۵۰) غړو لپاره له صفر عدد پرته ددې مقررې له (۴) ګڼې ضمیمې سره سم، ورکول کېږي.

۲- د مشرانو جرګې د اداري هیئت او غړو د دولتي تېز رفتار نقلیه واسطې لپاره نمبر پلېټ چې په تور رنګ د متن، د (م – ج) توریو او په سپین رنګ د اعدادو لرونکې وي، له (۱۱۱۱)ګڼې څخه د مشرانو جرګې د (۱۰۲) غړو لپاره له صفر عدد پرته ددې مقررې له (۵) ګڼې ضمیمې سره سم، ورکول کېږي.

درېیمه ماده:

دغه ایزاد او تعدیل په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

می باشد:

۱- برای وسایط نقلیه تیزرفتار دولتی هیئت اداری و اعضای ولسی جرگه،نمبر پلیت که دارای متن برنگ سیاه،حروف(و–ج) و اعداد برنگ سفید،از شماره (۱۱۱۱) برای (۲۵۰) عضو ولسی جرگه بدون عدد صفر مطابق ضمیمۀ شماره (۴) این مقرره،توزیع می گردد.

۲- برای واسطه نقلیه تیز رفتار دولتی هیئت اداری و اعضای مشرانو جرگه، نمبر پلیت که دارای متن برنگ سیاه،حروف(م–ج) و اعداد برنگ سفید، از شماره (۱۱۱۱) برای (۱۰۲) عضو مشرانو جرگه بدون عدد صفر مطابق ضمیمۀ شماره(۵)این مقرره، توزیع می گردد.

مادۀ سوم:

این ایزاد و تعدیل از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Amendment and Addition to some Articles of law on Associations.**
- **Amendment of some Articles of International Treaties and Conventions law.**
- **Law on Academy of Sciences of Islamic Republic of Afghanistan.**
- **Addition to and Amendment of some Articles of Regulation on Driving License of Vehicles**

**Date:2th May.2017**

**ISSUE NO:(1257)**